# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبــــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com　　afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
| --- | --- |



لیکنه : امیرگران

۱۳ می ۲۰۲۰

## په افغانستان او سیمه کي د " لوئي لوبي " د امریکائي پړاو پیچلتیا:

د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پومپیو وروسته د کابل له سفر ، قطر ته ورسید او په قطر کي د طالبانو د سیاسي دفتر رئیس ملا برادر ئي خپل حضور ته طلب کړ ، او د خپل سفر په هکله ئي هغه ته معلومات ورکړل ، خارجه وزیر پومپیو واشنګټن ته له رسیدو سره سمدلاسه او په بیړه د ستیټ ډیپارټمنټ اعلامیه نشر کړه چي په هغي کي ئي افغانستان ته په روان میلادي کال کي په مشروط ډول د یو میلیارد ډالرو مالي کومکونو د کمښت او هم ئي تهدید کړي چي په ۲۰۲۱ کال کي به هم یو میلیارد ډالر کم شي ، ولي که ۵۰۰۰ طالب زندانیان ژر خوشي او د دري سري حکومت لپاره په جوړجاړي باندي توافق وشي ، بیا به په کومکونو کي کمښت نه راځي ، داسي معلومیږي چي دا فیصله به مخکي له مخکي شوي وي ، او پومپیو په عجله اعلان کره ، ټرمپ او سپیني مانۍ د جنوبي اسیا لپاره په خپله ستراتیژۍ د بطلان کرښه کش کړه او د تیر په څیر ئي یوځل بیا U-Turn یا ۱۸۰ درجي تغیر وکړ ، د امریکا د بهرنیو چارو د وزارت له اعلامیي وروسته د افغانستان جمهور رئیس ډاکتر اشرف غني ملت ته په خطاب کي وویل او ډاډ ئي ورکړ چي ( د امریکا له اقتصادي مرستو مننه کوو ، او که دا مرستي چي مشروطي دي ، بندي هم شي ، په افغانستان به کوم اغیز ونه لري ځکه د افغانستان حکومت ئي بدیلي لاري وار د مخه لټولي دي )

باید زیاته شي چي د Global ویب پاڼي د پوځي مصارفو په یوه مقاله کي راغلي چي ( ... له دي سره سره چي امریکا ۲۲ تریلیون ډالره قرضداره ده ، بیاهم په خارج کي د ۸۰۰ نظامي اډو لګښتونه ورکوي ، او پنتاګون رپوټ ورکړ چي په ۲۰۱۸ کال کي ئي د افغانستان په جګړه کي ۴۵ میلیارده ډالر مصرف کړي چي ۱۳میلیارده ئي د خپلو پوځیانو ، ۵ میلیارده د افغانستان د وسله والو ځواکونو او متباقي اقتصادي کومکونه دي ، همدا ډول د CNBC د ۲۰۱۸ کال د رپوټ له مخي امریکا له ۲۰۰۱ م کال را پدیخوا 5,9 تریلیون ډالره د منځني ختیځ او افغانستان په جګړو کي مصرف کړي ).

د تورنتو سن د ورځپاڼي شنونکي اریک مارګولیس لیکي : ( حقیقت د جګړي لومړني قرباني ده ، هغه پټ حقایق چي د افغانستان جګړه ولي او څنګه پیل شوه باید روښانه شي ) امریکا په نیویارک کي د ۱۱/۹ له پیښي وروسته د اکتوبر د میاشتي په ۷ مه ۲۰۰۱ م کال پر ستري اوستومانه افغانستان یرغل وکړ او د ب ـ ۵۲ الوتکو په استعمالولو له هوا د بمونو په اچولو ځمکنیو ځانګړیو قطعاتو ته لاره هواره کړه ، او د شمالي ټلوالي سره ئي اړیکي ټینګي کړي وي لکه څنګه چي د واشنګټن پوست د ورځپاڼي مدیر باب وډ وارډ په خپل مشهور کتاب Bush at War کي لیکلي ( د زامه

ماتوونكي ټيم مشر او د سي آي اي سيمه ايز مامور ګيري شيرون د سپتمبر د مياشتي پر ۲۷ نيټه د شپي په درو بجو د افغانستان د پنجشير په دره کي د شمالي ائتلاف له جنرال فهيم او خارجه وزير ډاکتر عبدالله سره وکتل ، ګيري هغوي ته په ميليونو ډالر پر ميز کېښودل او څرګنده ئي کړه چي څنګه ئي لازمه بولئ دا ډالر مصرف کړئ ، او زياته ئي کړه چي جمهور رئيس زموږ له دي ماموريت سره ډيره مينه لري ، امريکائي ځواکونه رارسيدونکي دي او موږ ستاسو ګډه مرسته غواړو ( فهيم ورته وويل چي ) موږ تاسي ته هرکلي وايو ، موږ به هرڅه چي په وس کي مو وي درته وکړو ) .

نوموړي پيښي موږ ته را زده کوي چي له څلورو لسيزو په زياته موده کي افغانستان د پرديو او نيابتي جګړو ډګر ګرځيدلي ، امريکا د سړي جګړي تر ګټلو وروسته د نوي نړيوال نظم د جوړولو په منظور کلونه وړاندي له تروريزم سره د مبارزي په نامه او د خپلو نړيوالو او سيمه ايزو ستراتيژيکو او اقتصادي ګټو په موخه د لوبي د نوي پړاو د تطبيق لپاره لومړي ګوزار په افغانستان وکړ او د بن د کنفرانس له لياري ئي په غيرقانوني او غير حقوقي توګه مافيائي کړيو او جګړه مارو ته قدرت وسپاره ، د امريکا لخوا هغو جګړه مارو ډلو ته چي کلونه کلونه ئي د خپل هيواد د ملي ګټو او دموکراسی د ارزښتونو په وړاندي د پرديو استخباراتي کړيو په لمسون هيواد په کنډواله بدل کړي وي واک سپارل د افغانستان له خلکو ، ملي ګټو او سياسي خپلواکي سره خيانت دي.

سؤال دا دي چي د امريکا په مشرۍ د خارجي ځواکونو ائتلاف ياني د تروريسم سره د مبارزي ائتلاف چي تقريباً دوه لسيزي وړاندي افغانستان ته د دايمي سولي ، بيا رغوني ، ملت او دولت جوړوني لپاره راغلل ، آيا دا اهداف ترسره شول ؟ آيا په سيمه کي افغانستان د دموکراسی په بيلګي بدل شو ؟ او آيا د افغانستان د خلکو عمده دشمن اخوان ، طالب او نوري جګړه ماري مافيائي ډلي وځپل شوي ؟

د لوموند ديپلوماتيک د ويب پاڼي مبصر آلــن ګـــرش د ( افغانستان ، د " اسلامي توتاليتاريزم " ضد جګړي ناکامي ) تر عنوان لاندي ليکي چي د افغانستان د مسئلي د حل نه به غير د واشنګټن او طالبانو توافق په حقيقت کي د "تروريزم سره د جګړي " د ماتـــــي په مانا ده ، موافقتنامه چي د امريکا د دولت او طالبانو ترمنځ د فبروري د مياشتي په ۲۹ نيټه ـ ۲۰۲۰ م کال په قطر کي امضاء شوه ، په معاصره دوره کي لومړنی موافقتنامه ده چي د يوه دولت او يوه " تروريستي سازمان " ترمنځ وروسته له کلونو مستقيمو مذاکراتو توافق پري راغلي ، او په کار دا وه چي د اوږدي جګړي د پاي ټــکي واي ، ولي تر اوسه ليري ده چي د موافقتنامي عملي بڼي ته هيله من شو ، موافقتنامه په امريکا او اروپا کي تر انتقاد لاندي راغلي او مهم دليل دادي چي امضاء شوي توافق د هغي ادعا په خلاف ده چي ويل شوي " هيڅ وخت له تروريست سره مذاکره ونه شي " او دا احتمال هم شته چي د امريکائي ځواکونو له شاتګ څخه افغانستان يوځل بيا د طالبي امارت په اختيار کي ولويږي چي جمهور رئيس ټـــــــرمپ هم اشاره ورته کړي ، او هيواد به د سپتمبر د ۱۱ حادثي مخکي جګړه ايز حالت او ژور بحران ته ټيله کړي .

له بده مرغه افغانستان په اوسنيو شرايطو کي د تاريخي کشمکش په دوه لاري کي قرار لري ، جګړه چي له ۱۹۷۳کال ياني د افغانستان د لومړني جمهوريت د اعلان وروسته د پاکستان د مـــلا ـ مليټري ـ استخباراتو د مثلث لخوا د مذهبي توندلارو او اجيرو ډلو په استخدامولو روانه ده د وخت په تيريدو پيچلي او ژور ابعاد خپلوي ، په ۱۹۷۹ کي د شوروي اتحاد د سرو پوځونو د لوڅ يرغل په نتيجه کي ، امريکا او ديکتاتور ضياء الحق د خپلو ستراتيژيکو او جيوپوليټيکو ګټو لپاره د جهادي ارتجاع منظم کول چي نوښت ئي د بريژنسکي ، چارلي ويلسن سره وو او وروسته د يونوکال لخوا د طالبانو د پروژي په کار اچول د افغانستان د ورانولو او ويشلو خائنانه پلانونه او پروژي وي.

څو کاله مخکې د امریکا جمهور رئیس د جنوبي اسیا د ستراتیژۍ په اعلانولو د پاکستان په هکله وویل ( پاکستان د امریکا واکداران وغولول او موږ ئې احمق را ګیر کړي وو ، امریکا ۳۳ میلیارده ډالر کومکونه ورکړل ولې له تروریزم سره په جګړه کې ئې کومک ونه کړ ) په ځواب کې ئې د پاکستان د دفاع او بیا وروسته خارجه وزیر خواجه محمد اصف داسې څرګندونې وکړې ،

( ـ د افغانستان جهاد یو جعلي جهاد وو ،

ــ د افغانستان د تنظیمونو مشران د ، سي آی اې او آی اس آی په اشارو نڅېدل ،

ــ د افغانستان جهاد د نبراسکا جوړه شوې پروژه وه ،

ــ زه او د پاکستان ولس د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت په وړاندې جګړه ، خپل تاریخي او سیاسي نه بخښیدونکې عمل ګڼو ، د خواجه اصف څرګندونې د Express News له تلویزوني چینل سره ، ۲۰۱۸ کال.

په پای کې باید زیاته شي چې په افغانستان کې د قدرت ډراماتیکې لوبې دوام لري ، د ترهګرۍ په وړاندې د جګړې له نامه څخه د یوې پلمې په توګه کار اخیستل کیږي ، افغانستان له څلورو لسیزو په زیاته موده کې د نړیوالو ، سیمه ایزو او په دوې پورې د تړلیو مافیائي او جګړه مارو ډلو د جګړې تود ډګر ګرځیدلی ، اندیښنې دا دي چې د افغانستان په هکله د سپینې ماڼۍ په پالیسي کې د پاکستاني استبلشمنټ او ترهګرو ډلو په ګټه بدلون ، او لکه څرنګه چې د امریکا د کولمبیا د یونیورسیټي پروفیسور، بارنت روبین چې د افغانستان د چارو کارپوه او د څو کتابونو مؤلف هم دی په خپله مقاله کې اشاره کړې چې د امریکا اقتصاد به د کرونا د پانډیمي په وجه ضعیفه او ویره ده چې افغانستان یو ځل بیا د ۱۹۹۲ ، لسیزې په څیر هیر او یوه ناکامه دولت Failed State ته ولویږي ، او بیا د پنجابي ښکیلاک د نیابتي ابزارو ( Shadow State ) په اختیار کې ورکړل شي ، ټول ملت په تیره بیا روڼ اندي او د افغانستان د ملي ګټو مبارزین خپل هیوادني مسؤولیت او ملي وجیبې ته متوجه او الرټ و اوسي .

پایله ، هغه " لویه لوبه " چې په ۱۸۴۰ م کال په افغانستان او د برتانوي هند په شمال کې د انګریزي استعمار او تزاري روسیې د نظامي او جاسوسي فعالیتونو د توضیح لپاره په مخ روانه وه ، یو ځل بیا ئې زموږ هیواد ډګر ګرځیدلی او لا روانه ده ، پای .